# شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / (۱۳۹) ګڼه / سه‌شنبه ۲۸ شعبان‌المعظم ١٤٤٤ هـ.ق/ ۰۱ حمل ۱۴۰۲ هـ.ش / ۲۱ مارچ ۲۰۲۳ میلادي


## د بامیانو عدلیې ریاست روان کال څه باندې ۴ زره حقوقي دوسیو او عریضو ته رسېدنه کړې

د بامیانو دعدلیې ریاست مسوولین وایي، چې د روان کال په لړ کې یې ۴ زره ۱۲۰ حقوقي دوسیو او عریضو ته رسېدنه کړې ده.

د دغه ریاست مالي او اداري مدیر برهان الدین رباني باختر آژانس ته وویل، چې روان کال په لړ کې دغه ریاست ته ۳ زره ۵۱۸ حقوقي عریضو او ۶۰۲ حقوقي دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

رباني زیاته کړه، چې په دغه موده کې یې د ۹ معاملاتو لاربښوونې دفترونو جوازونه وېشلي او دغه راز ۵۹ عریضه لیکونکو جوازونه تمدید او نوي شوي دي.

نوموړي وویل، چې روان کال یې ۱۴ میلیونه ۳۳۸ زره او ۸۶۵ افغانۍ عواید هم راټول او د دولت خزانې ته یې سپارلي دي.

## د کورنیو چارو وزارت د تېر یوه کال کړنې او لاسته راوړنې له رسنیو سره شریکې کړې

د کورنیو چارو وزارت نن خپلې یو کلنې کړنې او لاسته راوړنې د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو په مرکز کې د یوې خبري غونډې له لارې له خبریالانو سره شریکې کړې.



د یاد وزارت ویاند عبدالنافع ټکور په دغه غونډه کې ۱۴۰۱ کال د کورنیو چارو وزارت لپاره په مختلفو برخو کې له لاسته راوړنو ډک وباله.

د ټکور په خبره په تېره یوه کال کې په ټول هېواد کې ۱۱ زره ۸۹۰ جرمي واقعات رامنځته او د کورنیو چارو وزارت یې په تړاو ۱۶ زره ۶۸۵ تنه تورن کسان نیولي دي، او ۱۰۹۷ تورن کسان لاهم د امنیتي ځواکونو تر تعقیب لاندې دي.

نوموړي زیاته کړه، چې په یاده موده کې د انسان تښتونې ۱۰۶ پېښې رامنځته شوي، چې د کورنیو چارو وزارت د جنایي پېښو پر وړاندې د مبارزې پولیسو د انسان تښتونکو پر وړاندې ۲۰۰ عملیات ترسره کړي، چې په پایله کې یې ۱۳ تنه انسان تښتوونکي له پولیسو سره په نښتو کې وژل شوي او ۱۹۰ انسان تښتونکي نیول شوي او د قانون منګولو ته سپارل شوي دي.

سرچینې همدارنګه وویل، چې په تېر یوه کال کې ۴۴ تنه هېوادوال د انسان تښتوونکو له منګولو څخه ژغورل... ۵مخ

وزیرخارجه

## فصل جدیدی از مناسبات سیاسی را با جهان گشودیم



دستگاه دیپلوماسی امارت اسلامی افغانستان در دوازده ماه گذشته برای باز کردن یک فصل جدید مناسبات سیاسی با جهان، تلاش‌های گسترده‌ای انجام داده است.

هرچند این تلاش‌ها به کسب مشروعیت از سوی هیچ‌کشوری تاهنوز منجرنشده اما بیرق امارت اسلامی در برخی ازکشورهای منطقه برافراشته شده است.

روسیه، چین، ترکیه، ایران، پاکستان، ازبیکستان، ترکمنستان، قزاقستان، ... ص۵

## روند ثبت موترهای یک کلید و اشترنگ راسته درهرات، آغاز می شود

والی هرات و رئیس عمومی ترافیک وزارت داخله روی آغاز روند ثبت موتر های یک کلید و اشترنگ راسته در آن ولایت بحث کردند.

شیخ الحدیث مولانا نور احمد اسلام جار والی هرات، با پاسوال حبیب الله مختار رئیس عمومی ترافیک، دیدار کرد.

در این دیدار کاری، روی آغاز طرزالعمل ثبت موتر های یک کلید و اشترنگ راسته در هرات بحث شدکه قرار است طبق طرزالعمل برای این نوع موتر ها پلیت موقت سه ساله داده شود.

وزیر زراعت با مسوولان اتحادیه مرغ‌داران

## اگر لازم باشد قرضه حسنه جهت بهبود مرغ‌داری می‌دهیم

مولوی عطاءالله عمری وزیر زراعت، آبیاری و مالداری با اتحادیه مرغ‌داران کشور دیدار و پیرامون مسایل مختلف مرغ‌داری و واردات گوشت مرغ از سایر کشورها بحث و گفتگو نمود.

در این دیدار مولوی عطاءالله عمری وزیر زراعت گفت:« ما متعهد به همکاری با تجاران به ویژه مرغ‌داران کشور هستیم، اگر لازم باشد قرضه حسنه جهت بهبود مرغ‌داری می‌دهیم و



هم‌چنان واردات گوشت مرغ را در بنادر کشور مدیریت می‌نماییم.»

در همین حال شماری از فارم‌داران مرغ می‌گویند؛ ما در ... ص۵

## د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو چارو معینیت له کارکوونکو څخه د «عقیدتي مسایلو» آزموینه واخیستل شوه



د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، د دعوت او ارشاد ریاست، د دعوت او ارشاد درسونو په لړ کې، نن د خپرونو چارو معینیت له کارکوونکو څخه د «عقیدتي مسایلو» آزموینه واخیسته.

د دعوت او ارشاد درسونو روزنیزو دورو د ترسره کولو موخه د کارکوونکو د دیني ظرفیت لوړول او له دیني او اخلاقي موضوعاتو سره د هغوی آشنا کول دي.

د باختر آژانس خبریال د خبر له مخې؛ په همدې مناسبت جوړه شوې غونډه کې، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، د دعوت او ارشاد رئیس مولوي حاجي ... ۵مخ


باغ‌داری و نهال‌شانی در پرتو ساینس و قرآن — صفحه۲

د عباداتو د قبولیت معیار — ۳مخ

د روژې د ماتولوپه وخت کې دُعاګانې — ٤ مخ


سرمقاله

## نوی کال او نوې هیلې!

د امیرالمؤمنین شیخ الحدیث هبة الله آخندزاده حفظه الله د نویو فرمانونو په صادرولو سره د افغان مجاهد ملت د هیلو مړاوې غوټۍ په غوړېدو کړي نوموړي په خپل لومړني فرمان کې په امارتي چارواکو د خپلو زامنو په یوه اداره کې د انفکاک حکم کړې چې هیڅ چارواکې نشي کولی په یوه اداره کې خپل زامن مقرر کړي دغه فرمان د رسنیزو سر چینو او تلویزیونونو په سکرین بیا بیا خپرېږي او د اکثریت افغانانو ملاتړیې خپل کړی دی چې دا د اداري اصلاحاتو مهم اصل دی او ملت په خپل مشرتابه باوري کوي د امیرالمؤمنین دوهم فرمان د مخدره او نشه یي توکو په کښت او قاچاق د بندیز حکم صادر کړی په دغه فرمان کې ویل شوي چې د هېواد یو معدن دې استخراج شي او په هغه کې دې په نشه یې توکو د روږدوکسانو درملنه وشي د ملت د هیلو مړاوې غوټۍ په غوړېدو شوې د نوي کال له پیل سره سم دغو نویو فرمانونو افغانان هیله مند کړي او د افغان مؤمن او مجاهد ملت پراخ ملاتړیې راخپل کړي او د تېر فاسد نظام چې افغانستان یې د مفسدو هېوادونو د لیست په سرکې قرار درلود او په میلیونونو افغانان چې په نشه یي توکو روږدي ول هیڅ برنامه نه درلوده چې د شل کلنې واکمنې پر مهال یې د روږدوکسانو لپاره د درملنې او یا هم د نشه یې توکو د کښت او قاچاق مخه نیولی وای اسلامي امارت په داسې حال کې چې د نړیوالو بندیزونو او قسما... ۵مخ

چارواکي:

## سږ کال په طبیعي پېښو کې له زرو ډېر کسان مړه شوي



پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت سرپرست وزیر وایي، سږ کال په طبیعي پېښو کې ۱۱۰۲ کسان مړه او ۲۱۵۹ نور... ۵مخ

## سرباز آسترالیایی به اتهام ارتکاب جنایات جنگی در افغانستان گرفتار شد




مقامات آسترالیایی روز دوشنبه (۲۹حوت) اعلام کردند که یک سرباز سابق این کشور را به اتهام کشتن یک فرد ملکی در افغانستان گرفتار کرده‌اند.

پولیس فدرال آسترالیا از اظهار نظر بیش‌تر خودداری کرده زیرا تحقیق در این مورد جریان دارد و این موضوع در محکمه مطرح خواهد شد. ص۵

## کابل کې د اتصالات مخابراتي شرکت له لوري د نیالګیو کېنول کمپاین پیل شو




د پسرلي د موسم په را رسېدو سره اتصالات مخابراتي شرکت هم د هیواد د سمسورتیا او ابادۍ په موخه د نیالګیو کېنولو کمپاین د کابل ښار د وزیر محمد اکبر خان په پارک کې د نیالګیو په کېنولو سره پیل کړ. د دې کمپاین د پیل په مراسمو... ۵مخ

## تطبیق صدها پروژه عمرانی وانکشافی دریک سال گذشته در لوگر

مسئولان در ریاست احیا و انکشاف دهات لوگر می گویند که در سال گذشته، پروژه های زیاد عمرانی وانکشافی را به ارزش دو میلیارد افغانی در آن ولایت تطبیق کرده اند.

مولوی محمد قاسم راشد، رئیس احیا و انکشاف دهات لوگر در یک کنفرانس مطبوعاتی گفت: در جریان یک سال گذشته، در مرکز و ولسوالی های این ولایت پنجصدو هشتاد و دو پروژه به ارزش دو میلیارد افغانی ص۵




**سالمزی**

زما نظر دادی چې نوی کال پیل شو ځمکې هم شین لباس واغوست رنګارنګ ګلان وغوړېدل چمنونه شنه شول او په سرکې یې ډول ډول ګلان کېښودل ونې هم شنې شوې او خپل زوړلباس یې بدل کړ او خپلې تنې یې په شنوپاڼو وپوښلې چینې راوخوټېدې بلبلان باغو ته راغلل او د پسرلي په راتګ سره یې د خپلې خوښې ترانې پیل کړې دهقانانو هم متې رابډوهلې او د نیالګیو په کینولو یې پیل وکړ د نوی کال په پیل سره د هر چا په ذهن کې نوې هیلې راوټوکیدې وینه په حراکت کې راغله او هر څوک پدې هڅه او هاندکې دي چې د نوی کال په پیلیدو سره نوې پلانونه جوړ کړي او د خپل هېواد او ملت لپاره داسې سهولتونه او د ژوند اسانتیاوې برابرې کړي ترڅو انساني ژوند لاپسې اسان او خوندورشي او د خپل علم او پوهې پرمټ له ژوند څخه خوند واخلي خو دا هر څه یو چا ته په ډالۍ کې نه راځي بلکې د هر څه لپاره چې ته یې په لټه کې یې زخمت او خواري غواړي لکه چې شاعر وایي! چې غوټې پسې وهې پلاس به درشي !

چاویل چې په دریاب کې ګوهر نشته

همدارنګه پښتو متل دی چې وایي بې زخمته راحت نشته هر څه چې ته یې حاصلول غواړې مادي او ځاني قرباني او وخت غواړي راځئ چې د نوی کال په پیل سره د خپل ګران او محبوب هېواد افغانستان او خپل ځوریدلي ملت د هوساینې او پرمختګ لپاره په ګډه ګتور پروګرامونه او پلانونه جوړ کړو او موجودو ستونزو ته د هواری په لارو چارو غور وکړو ترڅو په دې ترتیب د نړۍ له پر مختللي کاروان سره موږ هم خپل ځانونه د سیالۍ جوګه کړو د تعلیم او تعلوم په برخه کې داسې بنسټیز کارونه ترسره کړو چې هیڅکله مو هېوادوال بهرنیو هېوادونو ته اړ نشي وخت تیریږي او تاریخ پاتې کیږي و من الله توفیق د یوه ودان او پرمختللي افغانستان په هیله

# نهال‌شانی و باغ‌داری در پرتو ساینس و قرآن

**بخش سوم / ابوالیاس جهادوال**



ارزش اقتصادی و اجتماعی:

بسیاری گمان می کنند که تنها عنصر درآمدزای جنگل‌ها و درختان چوب است که به طور مستقیم وارد بازار شده و در اقتصاد این محدوده طبیعی نقش ایفاء می‌کند، اما علاوه برآن درختان جنبه‌های اقتصادی و اجتماعی دیگری نیز دارند.

طبق تحقیقات انجام شده، درختان در شهرهای بزرگ که حدود ۱۰ درصد از جمعیت ۷,۵ میلیاردی جهان را در خود جای داده است، همه ساله با ارائه خدماتی همچون پاک‌سازی محیط زیست شهری و تبدیل شهرها به محیطی قابل زیست و دلپذیر، معادل ۵۰۰ میلیون دالر امریکایی به شهروندان سود می‌رساند.

به گزارش کالج علوم محیط زیستی و جنگل‌داری سانی در سیراکیوز نیویارک، در مقاله‌ای که در مجله آنلاین« Ecological Modelling »به چاپ رسیده است، گروهی از محققان بین‌المللی گزارش داده اند که در ۱۰ شهر تحت مطالعه فواید اکوسیستم‌های درخت، به‌طور متوسط سالانه به ۵۰۵ میلیون دالر می‌رسد که ارزش سرانه آن ۳۵ دالر در سال تخمین شده است.

داکتر تئودور اندرنی، نویسنده ارشد مقاله این تحقیق، از کالج علوم محیط زیستی و جنگل‌داری در سیراکیوز نیویارک می‌گوید که ارزش خدمات درختان به ساده‌گی و با کاشت تعداد بیشتری از آنها می‌تواند دو برابر شود. اندرنی می‌افزاید: «اگر در تمامی ساحات ممکن در شهرهای بزرگ درخت کاشته شود، می‌تواند این منافع الی ۸۵ درصد افزایش یابد» در این مطالعه، پوشش موجود و بالقوه درختان و سهم آن در خدمات به اکوسیستم‌ها در ۱۰ شهر بزرگ «پکن، بوئنوس آیرس، قاهره، استانبول، لندن، لوس آنجلس، مکسیکو سیتی، مسکو، بمبئی و توکیو» بوده است.

علاوه بر این، فرآورده‌های درختان منبع تأمین مواد اولیه برای صنعت و داروسازی مدرن نیز می‌باشند. حداقل بیش از ۲۵ درصد مواد مورد نیاز داروسازی مستقیماً از نهال‌ها به دست می‌آید.از این محصولات از قدیم الایام، در صنعت داروسازی و عطاری و حتی به‌دست آوردن نوع چسب استفاده می‌شود، مثلاً بهترین ماده ضدعفونی‌کننده از برگ درخت سدر و سنجد، بهترین رنگ مو از درخت حنا، بهترین مواد خوشبوکننده از چوب درخت عرعر و بهترین نوع عطر برای رفع خستگی در ورکشاپ‌های ارتقای ظریفت تولیدی از درخت سرو به دست می‌آید.

میوه بسیاری از نهال‌ها مورد استفاده انسان و حیوان است، طوری که می‌تواند در تغذیه انسان و تأمین ویتامین‌های مورد نیاز تأثیر به سزایی داشته باشد که علاوه بر میوه، مغز، دانه و شیره منبع تولید قارچ‌های خوراکی، توت‌ها و شکارهای بزرگ نیز شمرده می‌شود.

هم‌چنان برگ و شاخه‌های درختان نیز بخش مهمی از تغذیه حیوان و گاه انسان را فراهم می‌سازند و در تولید گوشت مصرفی انسان (با تغذیه حیوان‌ها از گیاهان) نقش اولیه را دارد.

در ضمن حدود ۳۰۰میلیون نفر در سراسر جهان در جنگل‌ها زنده‌گی می‌کنند، از جمله حدود ۶۰ میلیون نفر بومی که بقای آن‌ها تقریباً به طور کامل به جنگل‌های بومی بستگی دارد. میلیون‌ها نفر دیگر در امتداد یا نزدیک حاشیه‌های جنگل زندگی می‌کنند که از محصولات جنگلی و درختان کسب درآمد می‌نمایند.

بر اساس گزارش سازمان ملل متحد، بیش از ۶.۱ میلیارد نفر تا حدی برای امرار معاش به جنگل‌ها و باغ‌ها متکی بوده و ۱۰ میلیون نفر به‌طور مستقیم در مدیریت یا حفاظت آنها مشغول کار هستند.

درختان هم‌چنان منبع ساخت و ساز چوبی بوده و انسان‌ها مدت‌هاست که از این منابع تجدیدپذیر برای ساختن فراورده‌های چون کاغذ، مبل و فرنیچر، خانه، لباس و ... استفاده می‌کنند.

علاوه بر این، درختان منبع زیبایی زمین بوده که زیبایی طبیعی واضح‌ترین و در عین حال کم‌ترین فایده‌ای بوده یک جنگل ارائه می‌دهد. ترکیب انتزاعی سایه، سرسبزی، فعالیت و سکون می‌تواند مزایای مشخصی را برای مردم به همراه داشته باشد. برعلاوه این منابع، زمینه را برای تفریح و گردش انسان‌ها نیز فراهم می‌کند. تمایل ذاتی ما به جنگل‌ها، بخشی از پدیده‌ای به نام بیوفیلیا، هنوز در مراحل اولیه توضیح علمی است. می‌دانیم که بیوفیلی ما را به سمت جنگل‌ها و دیگر مناظر طبیعی می‌کشاند. وقت گذراندن در جنگل مفید بوده و به ما حسی خوشی می‌دهد.

**ادامه دارد...**

# د نیالګیو کېنول، د هېواد آبادي او سمسورتیا

**عبدالصمد روشن**

پوهیږو چې نیالګي،ونې، او ځنګلونه د هوا په ښه کیدو او پاکوالي کې ډېر ښه اغیز لري یانې ککړه هوا تصفیه کوي او پاکه هوا رامنځته کوي

د انسان د صحت لپاره پاکه هوا ډېره ضروري ده. د ککړې هوا څخه هر راز ناروغۍ پیدا کیږی لکه:ریزش، زکام، سینه او بغل، د سر درد،د زړه ناروغی،ساه بندي او داسې نور چې دا ناروغي په ماشومانو،سپین ږیرو، او بار دارو ښځوکې ډېره لیدل کیږي. د دې لپاره چې زمونږ محترم هیواد وال له داراز ناروغیو سره مخامخ نشي نو لاندې طرحه وړاندې کېږي:

– د نیالګیو د کینولو او سمسورتیا د ګټې په اړوند محترمو علمای کرامو، خطیبانو،واعظانو،د طب ډاکترانو،د چاپیریال ساتنې ملي اداري متخصصینو ته، په چاپي رسنیو،رادیو ګانو او تلویزیونونو کې مسلسل او دوامدار پروګرامونه جوړکړای شي ترڅو د هیواد د سمسور تیا،ښکلا او د نیالګیو کینولو لپاره،عامه پوهاوي رامنځته شي او چاپیریال مو لکه څنګه چې لازمه ده ښه شي.

– د کابل ښار په ۲۲ ناحیوکې هغه خلکو ته چې د نیالګیو د اخیستلو توان نه لري د کابل ښاروالي لخوا د نیالګیو کومک او مرسته وشي.

– د کابل ښار غرونه باید د پاکستان پایتخت(اسلام آباد) غرونو په شان سمسور او ښکلا پیدا کړي تر څو د کابل محترمو ښاریانو لپاره په تفریح ګاه بدل شي.

–د کابل ښار غرونه لکه:آسمایی.شیر دروازه، علي آباد، دارالامان،چهلستون،شیوه کي، بتخاک،پلچرخي او خیرخانه. د کابل ښار تپې لکه:کارته نو،قلعه زمان خان،بي بي مهرو،کلوله پشته، د کابل ښاروالي لخوا نخچه شي او بیا زینتي او بې میوې نیالګي په کې کینول شي.

–همدا راز د کابل محترم ښاروالي لخوا مناسب پاخه سړکونه په نوموړو غرونو، غونډیواو تپو کې جوړ شي ترڅو ښاریان بې له کومې ستونزې هلته تګ او راتګ وکړي.

– باید د کابل ښار په نوموړو غرونو او تپوکې د ناستې او تفریح ځایونه، پارکینګګونه،د اوبو نلونه،رستورانتونه هم جوړ شي او په مناسبوځایونو کې ګلونه او داسې نور هم په نظر کې ونیول شي.

– د کابل ښاروالي لخوا ټولو نیالګیو،ګلونو، او سمسورو ځایونو ته په منظمه توګه اوبه ورسول شي.

- د کابل ښاروالي لخوا د کوچیانو او مالدارانو څخه تضمین او تعهد واخیستل شي ترڅو نیالګي،ګلان او سمسور تیا د کابل په ښار او ناحیو کې خراب نکړي، تخلف کوونکو ته قانوني سزا ورکړل شي.

– د کابل ښاروالي لخوا د نیالګیو په ښه توګه ساتنه وشي ترڅو له منځه لاړ نشي.

– د کابل ښار او د ناحیو لویو سړکونو او جادو په ګلدانونو کې ګلان او نیالګي کینول شي، امنیت یی تامین او اوبه ورکړل شي د امکان په صورت کې د اوبو د قطره یې سیستم څخه استفاده وشي.

– د هیواد په ترانزیتي او لویو لارو لکه: کابل - جلال آباد، جلال آباد - تورخم، جلال آباد – اسعد آباد، کابل - کندهار ،کندهار– هرات، هرات– تورغونډی، کابل– پلخمري، پلخمري - شبرغان، پلخمري - کندز، کندز - بدخشان، کابل - بامیان، کابل - ګردیز، ګردیز - خوست، مزارشریف - حیرتان، خواف - هرات. د دغو لویو لارو په دواړو خواوکې نیالګي کینول شي او د اړوندو سیمه ییزو ارګانونو لخوا اوبه ورکړل شي او پالنه یې وشي.

– د دغو لویو او ترانزیتي لارو په اوږدو کې په مناسبو ځایونو کې منظم جوماتونه او د اوداسه ځایونه ( د نارینه و او ښځولپاره ) جوړ شي لکه چې په سعودي عربستان کې جوړې شوې دي خصوصاً (دمکې معظمې او مدینې منورې په لاروکې)

– د دغو لویو لارو په اوږدو کې دولتي هوټلونه،رستورانتونه ،پارکونه او د تفریح ځایونه جوړ شي.

– د ۳۴ ولایتونو د مرکزونو او اړوندو ولسوالیو ترمنځ د سړکونو په دواړو خواوکې نیالګي کینول شي او د اړوندو سیمه ییزو ارګانونو یا کلیوالو له خوا اوبه ورکړل شي او وساتل شي.

د داسې پلانونو په عملي کولو سره به له یوې خوا د اسلامي امارت اقتصاد پیاوړی شي له بلې خوا به د خلکو د کور نه لرلو ستونزې هم حل شي او دوزګارو خلکو لپاره به هم د کاروبار زمینه برابره شي.

– د ترانزیتي او لویو لارو په اوږدو کې دسیمې خلکو، مهاجرینو، د شهیدانو کورنیو، معلولینو او معیوبینو ته د اړوندو ښاروالیو لخوا د پلان او نخچې سره سم استوګنیزې نمرې ورکړل شي. همدارنګه تجارتي او لوړ پوړیزې نمرې خلکو ته هم ورکړل شي ترڅو د کور نه لرلو ستونزې حل شي. له بلې خوا په مناسبو ځایونو کې ښارګوټي هم له نخچې سره سم جوړې شي نو دداسې پلانونو او نقشو په پلې کیدو سره به د اسلامي امارت اقتصاد هم ښه پیاوړی شي. له بلی خوا وزګارو خلکو ته به د کار زمینه برابره شي او مهاجرین به ته په خیر سره راشي او د وطن په آباد دولوکې به ونډه واخلي.

– د محترمو والیانو او محترمو ولسوالانو لخوا د افغانستان ټول غرونه ، ځنګلونه او سمسورتیا حفظ او وساتل شي او سرغړوونکو ته لازمه قانوني سزا ورکړل شي.

- د ترانزیتي او لویو لارو په اوږدو کې تولیدي فابریکې، زراعتي او مالداری فارمونه رامنځته شي تر څو بې روزګاره ځوانانو ته د کار او روزګار زمینې برابری شي.

– د ترانزیتي او لویو لارو په اوږدو کې د میوو او ترکاریو د ساتلو لپاره باید سړې خونې جوړې شي ترڅو میوې او ترکاري خراب نشي. دا سړې خونې باید په اساسي او معیاري توګه جوړې شي ترڅو نرخونه په بازار کې له یوې خواثابت پاتې شي او دبلې خوا اخیستونکې په ژمي یا دوبي کې د اخیستلو توان ولري .

– د دغو پلانونو د عملي کولو لپاره په اړوندو ولایتونو، ولسوالیو او سیمو کې چې کوم کانالونه یا نهرونه، چینې او کاریزونه شتون ولري له هغو څخه باید په پوره اندازه ګټه واخستل شي.

– که چیری د نوموړو پروژو د عملي کولو لپاره لازمه بودیجه شتون ونلری. په دی صورت کې د اسلامي امارت د محترمو مقاماتو لخوا دې د نړیوالو مرستندویو موسسو څخه مرسته او کومک وغوښتل شی. همدارنګه د کورنیو موسسو، انجوګانو، خصوصي پانګه والو، بانکونو او ملي سوداګرو څخه مرسته وغوښتل شي. د همکاریو په شتون کې د نوموړو پروژو کارکوونکو ته د کار په بدله کې معاش یا خوراکي مواد په ټاکلي اندازه ورکړل شي او پروژې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي. مثلاً: د کابل -جلال آباد ترانزیتي لویې لارې په اږدو کې د( مشالي کمر) په سیمه کې د کابل له سیند څخه د اوبو کانال شروع شي اود دروندې کانال د کبانو تر پروژې پورې ورسیږي نو دا لویه دښته به تر اوبو لاندې او خړوبه شي نو د لغمان ولایت خلکو ته به یی زیاته ګټه ورسیږي. او یعنی: ددې کانال د جوړیدو له امله به زرګونه هکتاره ځمکه آباد او د استفادې وړ وګرځي.

–همداسې په نورو ولایتونو کې هم سیندونه شته دي چې اوبه یې د کانالونو په واسطه اړونده دښتې خړوبې کړي او په پای کې به دا سر لوړی افغانستان آباد، ودان، سمسور او پر ځان متکي یا بسیا او د بهرنیانو له احتیاج څخه به خلاص شي. د هیواد محترم کډوال به هم په مینه خپل وطن ته په خیر سره راشي او د عزت ژوندبه وکړي او بیا د کډوالۍ ژوند ته زړه ښه نکړي.

–ددې طرحې په عملي کولو کې د اړوندو محترمو وزارتونو،ښاروالیو او نورو ارګانونو همغږې ضروري ده.

# جهاد مشروعیت

**خالد مشعل**

د نبي کريم صلی الله عليه وسلم دری پنځوس کلن ژوند لنډه نقشه لوستونکو ته وړاندې کيږي. د لږ تفصيل نه وروسته به څرګنده شي چې دنيا کې د اسلام خپراوی په کوم ډول شوی او هغه د هرې طبقې او هرې قبيلې په زړګونو انسانان، چې تر هجرت پورې مسلمانان شول څنګه دومره مست وو، چې اسلام او رسول الله صلی الله عليه وسلم يې له خپلو مالونو، پلرونو، نيکونو، ميرمنو او بچيانو بلکې له خپلو ځانونو څخه ورته ګران و. په اسلام کې د هغوی د داخلېدو لامل څه و، د حکومت زور او جبر و، يا بل کوم لالچ او د شان شوکت طمع وه، يا بله کومه د دبدبې څخه ډکه ډله وه چې د تورې په زور يې هغوی اړ کړل يا نور څه و؟ خو که د دې امي نبي صلی الله عليه وسلم (زما مور او پلار دې ترې ځار شي) پاکو سپيڅلو حالاتو باندې نظر واچول شي، نو د اختلاف له داره پرته به ځواب منفي تر سترګو شي. او ښکاره ده هغه يتيم چې د پلار سيوری يې د ده له ژوکړې مخکې ترې والوت او هغه چې په شپږ کلنۍ کې د مور غېږې هم خدای په اماني ورسره وکړه، هغه چې په مياشتو يې کور کې اور نه بلېده، چې د کور والاو يې کله هم په مړه ګېډه ډوډۍ نه وه خوړلې او هغه چې نږدې خپل خپلوان هم د حق کلمې ويلو له امله يوازې په څنګ نه بلکې سخت دښمنان شول. هغه څنګه پر چا حکومت کولی شي، يا د مال د لالچ او طمعې ياد توري په زور څوک خپل همفکره کولی شي؟

له دې پرته د تاريخ دفتر مخې ته پرانيستی دی، له اختلافه پرته په هغه کې موجود دي چې: د رسول الله صلی الله عليه وسلم د مبارک عمر دا دری پنځوس کاله داسې تېر شول، چې له لومړني بې سر و ساماني او بې کسي وروسته کله چې اسلام ته يوه ښکاره ځواکمنتيا هم ور په برخه شوه، ستر ستر زړور، اتل او شتمن اصحاب کرام رضی الله عنهم په اسلام کې داخل شول. په دې وخت کې هم اسلام په کوم کافر لاس نه دی پورته کړی، بلکې د ظالمانو د ظلم ځواب يې هم نه دی ورکړی، په داسې حال کې چې د مکې مکرمې د کفارو له خوا يوازې پر رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې ظلم نه کېده بلکې د هغه په خپلوانو او پيروانو هم سخت ظلمونه کېدل چې: په بيان او ليکنه کې نه راځي. د قريشو کفارو چې هر ډول ځواک، شان او شوکت يې درلود، هغوی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته په ضرر رسولو او ان په وژلو کې يوه شيبه هم غلي نه کېناستل. تر دريو کلو پورې يې هغه سره له خپلو متعلقينو کلا بند کړی او قريشو بشپړ پرېکون ورسره کړي و، د هغه د قتلولو سازشونه يې کول او صحابه کرامو رضی الله عنهم ته يې هر ډول ضررونه رسول. دا معلوم کړئ چې دا ټول څه و، خو قران کريم خپلو پيرانو ته له صبر او استقامت پرته د بل څه (مقابلې) اجازه نه ورکوله. هو! تر هغه وخته چې د جهاد حکم و، هغه دا و څو کفار په حکمت او د نصيحت په خبرو باندې د خپل رب لور ته راوبلي. او که چيرې د مخامخ خبرو وار راشي، نو په غوره تدبير او نرمو خبرو د هغه مقابله وکړي. او د قرآن کريم په واضحو دلائلو له هغه سره جهاد وکړي تر څو هغه حق وپېژني، تر دې وخته چې زرګونو انسانانو اسلام ته غاړه ايښې وه، له هر راز مصيبتونو سره په مخامخ کېدو باندې خوښ وو.

څرګنده ده چې دنيوي طمعې ياد حکومت د جبر، يا د تورې له امله مجبور شوي نه وو. دا ښکاره هدايت ويني، بيا هم دا خلک له الله جل جلاله څخه نه شرمېږي؟ چې د اسلام پر حقانيت باندې د پردې اچولو لپاره وايي: اسلام د تورې په زور خپور شوی. آيا هغه څوک ځواب ورکولی شي چې: پر هغو تورو چلونکو باندې چا توره چلولې وه؟ چې هغه يوازې مسلمان نشول، بلکې د اسلام د ملاتړ لپاره د تورې اوچتولو او په خطره د ځانونو پر اچولو هم خوښ وو. آيا دا ويلی شې چې: په ابوبکر صديق، فاروق اعظم، عثمان غني، علي مرتضی رضی الله عنهم اجمعين باندې چا توره اوچته کړه او هغوی يې مسلمانان کړل. ابو ذر غفاري رضی الله عنه، انيس رضی الله عنه او د هغوی قبيله چا اړ ويستلې وه، چې هغوی ټول مسلمانان شول. ضماد ازدي رضی الله عنه چا اړ کړی و، طفيل بن عمرو دوسي رضی الله عنه او د هغه په قبيله چا توره وچلوله. په بنو عبدالاشهل قبيلې باندې چا فشار راوړ. او په ټولو انصارو چا زور کړی ؟ هغوی يوازې اسلام نه و منلی، بلکې رسول الله صلی الله عليه وسلم يې هلته وروباله ټول مسؤليتونه يې په خپل سر واخيستل، خپل مال او ځان يې تر هغه ځار کړ. بريده اسلمي رضی الله عنه چا اړ کړ چې: اويا تنه ټولی له ځان سره کړي د مدينې منورې په لاره کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر او په رضاو رغبت مسلمان شي. د حبشې پاچا نجاشي باندې د چا له اړخه توره وچلول شوه، په داسې حال کې چې د پاچاهي او دبدبې خاوند و، له هجرته وړاندې مسلمان شو، ابو هند، تميم، نعيم او نورو باندې چا زور راوړی و، چې له شامه راغلل، د رسول الله صلی الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شول او د هغه غلامي يې غوره کړه؟ او نور ې دا ډول په سلګونو پېښې شته چې د تاريخ کتابونه ترې ډک دي.

**پاتې بيا...**



# د عباداتو د قبوليت معيار

**مولوي نورالحق مظهري**

دا معلومه خبره ده چې هر مسلمان د خپل عبادت د قبوليت غوښتنه لري او تل ددې دعا کوي چې الله پاک يې ټول عبادات قبول کړي خو د عباداتو قبوليت هغه وخت ممکن دی چې د انسان عقيده سمه وي ځکه عقيده د اعمالو د قبوليت لپاره شرط دی تر څو عقيده سمه نه وي په هيڅ صورت کې د انسان څخه اعمال نه قبليږي او عقيده د انسان هغه وخت سميږي چې پر ټولو هغو شيانو ايمان راوړي چې د يوه مومن د ايمان راوړلو لپاره ضروري وي چې مشهور اصول د عقايدو په لاندي ډول دي:

١ - د الله پاک پر وجود او يووالي عقيده درلودل.

٢ - د الله تعالي پر ټولو صفاتو عقيده درلودل.

٣ - پر غيب باندي باور درلودل لکه د آخرت ورځ، د قبر عذاب، جنت، دوږخ، حساب وکتاب، پل صراط، حوض کوثر او داسي نور....

٤ - پر دې خبره باندي عقيده درلودل چي د ټولو شيانو خالق الله پاک دی.

٥ - پر دې باندي عقيده درلودل چي هيڅ شی د الله پاک سره مشابه او ورته نه دی.

٦ - پر دې باندي عقيده درلودل چي د الله پاک د علم او قدرت څخه هيڅ شی بهر نه دی.

٧ - پر دې باندي عقيده درلودل چي الله پاک ازلي او ابدي دی خو مخلوقات حادث او تغيير کوونکي دي.

٨ - پر دې باندي عقيده درلودل چي د الله پاک لخوا ټول را استول سوي پيغمبران ثابت او پر حق دي.

٩ - پر دې باندي عقيده درلودل چي د الله پاک لخوا ټول را استول سوي کتابونه او صحيفې حق دي.

١٠ - پر دې باندي عقيده درلودل چي قرآن د الله پاک کلام دی او مخلوق نه دی.

١١ - پر دې باندي عقيده درلودل چي تکوين د الله پاک د صفاتو څخه يو صفت دی.

١٢ - پر دې باندي عقيده درلودل چي الله پاک په خپلو ټولو کارونو کي خپلواک او مختار دی.

١٣ - پر دې باندي عقيده درلودل چي ملائکي د الله پاک نږدې او مقرب بندګان دي او هيڅ ګناه ورڅخه نه کيږي.

١٤ - پر دې باندي عقيده درلودل چي په لويه ګناه باندي مسلمان د ايمان څخه نه وځي.

١٥ - پر دې باندي عقيده درلودل چي ټول انبياء د ګناه څخه معصوم دي.

١٦ - پر دې باندي عقيده درلودل چي لومړی پيغمبر او لومړی انسان آدم عليه السلام دی.

١٧ - پر دې باندي عقيده درلودل چي حضرت محمد صلي الله عليه وسلم خاتم النبيين دی دده وروسته بل پيغمبر نه راځي او هر څوک چي دده وروسته دعوه د پيغمبرۍ وکړي هغه درواغجن دي.

١٨ - پر دې باندي عقيده درلودل چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم معراج حق او ثابت دی.

١٩ - پر دې باندي عقيده درلودل چي د انبياو معجزې او د اولياو کرامتونه حق دي.

٢٠ - پر دې باندي عقيده درلودل چي له رسول الله صلي الله عليه وسلم وروسته په امت کي لومړی غوره انسان حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه دی، وروسته حضرت عمر، وروسته حضرت عثمان او وروسته حضرت علي رضي الله عنهم دي.

٢١ - پر دې باندي عقيده درلودل چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم اصحاب رښتيني او عادل مسلمانان وو، پر رسول الله صلي الله عليه وسلم عاشقان وو او زموږ لپاره د ژوند يوه بيلګه ده.

٢٢ - پر دې باندي عقيده درلودل چي د اهل سنتو څلور مذهبونه حق دي.

٢٣ - پر دې باندي عقيده درلودل چي د ګناه په روا ګڼلو او د شريعت په سپکاوي باندي انسان کافر کيږي.[شرح العقائد او نور]

پورته ذکر سوي شيان د عقايدو اصول دي چي هر مسلمان يې بايد مطلقا ومني او باور ورباندي وکړي که نه نو هيڅ عبادت يې د قبوليت درجې ته نه رسيږي البته د عقايدو د جزئي مسائلو د زدکړي لپاره هم بايد هر مسلمان کوښښ وکړي او د علماو څخه يې په اړه پوښتنه وکړي.

# اې انسانه فکر وکړه!

**فريد احمد مبارز**

اې انسانه! الله (جل جلاله) ځمکه ستا د کور فرش، آسمان يې ستا د کور چت، ستوري ئې فانوس، لمر يې څراغ او سپوږمۍ يې د شپې شمع نه دي درته ګرځولي.

اې انسانه! الله (جل جلاله) ستا د ښوونې او لارښوونې لپاره ستر او عظيم کتاب چې د کفر، شرک، بدعت، ظلم، زور، زياتي، بې اتفاقۍ او ناپوهۍ څخه دايمان، توحيد، سنت، عدل، يووالي او پوهې لوري ته راوبولي نه دی رالېږلی.

اې انسانه! الله (جل جلاله) له آسمانه اوبه نه را اوروي، په دغه باران سره مځکه نه شنه کوي، د ژوندي موجوداتو زړي پر خوځښت، ودې، نمو او وچې پاڼې پر ګل، دانه او ميوه نه راولي.

اې انسانه! الله (جل جلاله) ته د فزيکي، مادي او معنوي پلوه متعادل نه يې پيدا کړی، دوې سترګې، دوه غوږونه، دوه لاسونه، دوې پښې، او د بدن نور غړي يې ښه او غوره نه دي درکړي.

اې انسانه! الله (جلا جلاله) مرګ او ژوند نه دی پيدا کړی، مړو توکو ته ژوند نه ورکوي او ژوندو ته مرګ، هم ژوند د ده پيرزوينه او د قدرت نښه ده او هم مرګ.

اې انسانه! الله (جلا جلاله) ځمکه موږ ته نه ده مسخره کړې، زموږ په خدمت کې نه ده، رزق او روزي له همدې مځکې څخه نه راکوي، پر اوږو يې نه درومو او د خپلي اړتيا او ضرورت هرڅه نه ورڅخه ترلاسه کوو.

اې انسانه! پرته له دې چې اجازه تر لاسه کړي، اعصاب او د وجود سلول سلول دي د فطري الهي جوړښت مطابق خپل خپل کار نه کوي، د خوب او ويښې سويچونه، د صحت او ليونتوب کارونه ستا له واکه بهر نه دي.

اې انسانه! الله (جلا جلاله) د هغو کسانو لپاره چې ايمان يې راوړی او ځان (له نافرمانيو) ساتي په دنيا او اخرت کې د کاميابۍ زيری نه ورکوي.

نو اې انسانه فکرې دی، د الله (جل جلاله) د عظمت او لويي په وړاندې بوټي او ونې هم په سجده لګيا او د خپل رب په وړاندې تسليم دي، همغه کار کوي چې الله سبحانه وتعالی پرې ګمارلي، ته څه شي د خپل رب په اړه غولولی يې او څه شي دې ته هڅولی يې چې خپل رب هير کړې او له اوامرو يې سرغړنه وکړې.

# دې ته ايمان وايي!

**ليکوال: مفتي حبيب**

د ١٣٧٩ کال دجوزا لسمه وه چې د دارالعلوم حقانيې په دارالحديث کي له دولسو سوو ملګرو سره يوځای د محترم استاذ سيدشيرعلي شاه مدني (رحمه الله تعالی)دترمذي شريف درس ته ناست وم، له کوم حديث شريف څخه چی درس پيل کېدو؛ محترم استاذ له هغه وړاندي وويل:

طالبانو! دايمان په مسئله کي ښه خبره داده چي ايمان زيادت اونقصان نه لري خو قوت اوضعف يې يقيني خبره ده، زه به له تاسو سره په سترګو ليدلی يومجلس شريک کړم.

هغه دا چي يو وخت دنړۍ ستر طاقت امريکا پرافغانستان باندي ديرغل ګواښونه کول، دنړۍ ټول کفري هيوادونه ديوه ځواکمن اوغريب هيواد تر منځ دجګړې ننداري ته انتظار وو.

دا وخت ځينو دوستانو غوښتل چي طالبان ضعيف دي که له خپل موقف څخه شاته شي؛ نو ښه به وي. په دې تړاو موږ يو څو تنه داميرالمومنين ملامحمد عمرمجاهد (رحمه الله تعالي) د ملاقات لپاره کندهار ته لاړو او له نوموړي سره مو دهغه په دفترکي وکتل، موږورته وويل: محترم ملاصاحب! داچي اوس مهال اسلامي امارت په خطرکي دی که داسامه بن لادن امريکا ته دسپارلو يوه لاره جوړه شي ښه به نه وي؟

ملامحمدعمر مجاهد علماوو ته مخ راواړاوه او ويې ويل: «سمه ده زه به اسامه امريکاته وسپارم خو دقيامت په ورځ که ماته الله جلَّ جلالُهُ ووايي چې ته دمسلمانانو مشر وې يوڅه قدرت مي درکړی و، ولي دي خپل مسلمان ورور کفاروته وسپاره؟! زه به ورته په ځواب کې څه وايم؟! آيا تاسو يې جواب لرئ او تاسي ما د رب په حضور کي خلاصولای شئ؟!

حديث شريف دی: انَّ رَسولَ الله صلی اللهُ عليهِ وسلَّمَ قال اَلْمسلمُ اخوُالمسلم لايَظلمهُ ولايُسلمهُ وَمن کان في حاجةِ اخيهِ کان اللّهُ في حاجتهِ الحديث رواه ترمذي لومړی جلدَ ٢٦٣ مخ.

ژباړه: مسلمان دمسلمان وروردی، تېری به نه باندي کوي اودښمن ته به يې نه سپاري څوک چي دخپل ورورحاجت پوره کوي الله تعالی به دده حاجت پوره کړي.

زه وايم: اسامه څه کړي دي؟ ډېرکلونه کيږي له خپل هيواد څخه دلته راغلی دی، دشوروي پر ضد جهاد کي يې ډېري قربانۍ ورکړې دي اوس هم ديني خدمتونه کوي، زه خو الله تعلی ته زارۍ کوم چې خدايه! که دې داسامه دمرګ فيصله کړې وي په افغانستان کي يې مه وژنه او هغه ته اوږد ژوند غواړم»

مرحوم استاذ سيد شيرعلي شاه مدني( رحمه الله تعالي) وويل: ټولوعلماوو ځمکي ته کتل اوژړل يې موږ کوم جواب له ځانه سره نه درلود او له ځان سره مو ويل؛ دې ته ايمان وايي.

نوموړي زياته کړه: طالبانو! ګورئ (دغه دقوي ايمان يوښه مثال دی)

له دې وروسته محترم استاذ په خپل درانه غږ له پورته حديث شريف څخه درس پيل کړ ...

## دغروپسرلي

**اروانښاد ګل پاچا الفت**

له ګلو ډک دي غرونه رغونه
زرکو سره کړي پېښي لاسونه
د سپینو زرو تختي ښکارېږي
سرې چي ګوري نن أبشارونه
بهارګل راو وړغرواورغوته
د شپنو پام شو خپلو ناروته
زرکه ځان ولي بياله ګړنګه
مستي ختلي د غرو سروته
صحرا په ګلو څه ښه ښکارېږي
ګلان په ښکلو ښه ښکاره کېږي
غرونه رغونه له ګلو ډک دي
بلبل په باغ کي هسي ګر ځېږي

## غزل

**فضل ولي ناګار**

ستا د رحمت درياب به کله په څپو راځي
نوره مې ساه له تلوسو نه په وتو راځي
دا خپل ملنګ ربه! په نورو کوڅو مه ګرځوه
غريب سړی يم کبر نه کوم٬ پښتو راځي
دَعا که څو ده عبادت د کبريا په حضور
په تسلسل شرم٬ غيرت له پرښتو راځي
ما هم ځواني کړه نذرانه د کوم ارمان په هيله
وايي د رب حيا له دې سپينو ويښتو راځي
اوس زليخا غوندې ديره يمه د لارې په سر
چې د يوسف کاروان د مصر له کوڅو راځي
د زړه واړه کور کې د لويې مينې شور وګوره
د ناګار خولې ته اناالحق په زمزمو راځي

## ژوند دې وي، هېواد دې وي

**مشهود**

ژوند دې وي، هيواد دې وي او دغه امارت دې وي
سوله، ورورلي دې وي نظام د شريعت دې وي

نه دې ناوې کونډه وي او نه دې مورکۍ بوره وي
خدايه نور وطن کې داسې ښکلی امنيت دې وي

ډک دې شي زړګي د هيوادوالو د يو بل په عشق
ورک په ګران ولس کې کافِر بوتې د نفرت دې وي

نه دې مري د امن او سپېڅلې ازادۍ ناوې
ختم پر مؤمِن امت د کُفر دا وحشت دې وي

خلاص دې وي د کُفر د جابِرو يرغلونو نه
سپين محمدي بيرغ کابل باندې اوچت دې وي

غم او جنازې دې پر اوږو نور د ولس نه وي
مرګ د دښمنانو په کورو کې سلامت دې وي

نه دې وي لستونې کې مشهوده د لستونې مار
مينه دې کرلې وي، په زړو کې اخوت دې وي

# د روژې د ماتولو په وخت کې دُعاګانې

**مولوي عصمت الله عزام**




نحمده ونصلي ونسلم على رسوله الكريم امابعد :
د روژې د ماتولو په وخت کې دا لاندينۍ دُعاګانې لوستل سنت دي.

اللَّهُمَّ لَكَ صُمْتُ وَعَلَى رِزْقِكَ أَفْطَرْتُ(ابوداود ص: ۲۷۸ج: ۲)
(ياالله!ستاپاره مي روژه ونيوله اوستاپه روزي مي ماته کړله)

بله دعاء دا ده :
ذَهَبَ الظَمَأُوَابتَلَتِ العُرُوقُ وَثبَتَ الاَجرُان شَاءَاللهُ تَعَالَى
(رواه ابوداودباسنادحسن، مشکات ص:۱۷۵ج:۱)

ژباړه : تنده لاړه،رګونه لانده شول او ان شاءالله تعالی اجرثابت شو!! دغه مسنوني دُعاګانې دي،دا خوبايدولوستل شي،له دې پرته کومه دُعاء چې د چاخوښه وي،هغه دې ولولي او دخپلو حاجتونوحل دې له الله پاک څخه وغواړي ځکه د روژې د ماتولوپه وخت کې دُعاګانې قبلېږي. پاته شود پېشنمي په وخت کې دعاګانې. دپېشنمي په وخت کې چې کومې دُعاګانې انسان کول غواړي،ورته اختياردی،خوپه دې شرط چې د ګناه ياد خپلوي پرېکولونه وي .

وصلى الله على نبينامحمدوعلى آله واصحابه اجمعين

# د دعا کولو اداب

**ژباړه: عمر حامد**



که چيرې تاسو د هيواد جمهور رييس او يا کوم بل ملی شخصيت له خوا وبلل شی چی ورسره د خپلو اړتياو په هکله خبرې وکړی نو تاسو به دغه ملاقات ته څنګه تياری نيسی؟ تاسو به خامخا د ټولو نه ښی جامی اغوندئ او د ملاقات په وخت کی به ښه الفاظ استعمالوئ او منطقی خبرې به کوئ. او د غوښتنی په وخت کې به ورته خامخا وايی چی تاسو په دی باور ياستی چی ستاسو هيلی او غوښتنی به پوره کيږي.

اوس سوال دادی چې ايا مونږ د دعا په وخت کې د دعا کولو اداب مراعاتوو؟ ايا موږ په پوره باور سره دعا کوو؟ نو راځی چې لاندې ټکی په غور سره ولولو:

تر ټولو نه غټ دليل چې زموږ دعاګانی نه قبليږی د الله (ج) په باره کې زمونږ يو لړغلط ګمانونه دي.

د قران مجيد په سوره نمل ۲۷-٦۲ کی راغلی (بلکی هغه ذات غوره دی چی د مجبور (او عاجز) سوال قبلوي، کله چی هغه الله وبلي او هغه تکليف (او سختی) لری کوي او تاسې د ځمکی خليفه مقرروي. ايا له الله ج سره بل معبود شته؟ او تاستو ډير لږ نصيحت منئ.

حضرت عمر رض ويل چی زه د الله (ج) په ذات پوره يقين لرم چې زما دعاوی خامخا قبلوي، خو د خپلی دعا په هکله اندېښمن يم چی ايا زه دعا په پوره باور سره کوم.

حضرت محمد (ص) وايي چی الله (ج) د هر مسلمان دعا قبلوي، په دی شرط چې د ګناه کولو چانس او يا هم د خپلوي د ختمولو خطر پکې نه وي خو شرط دادی چې مسلمان بی صبري ونه کي. موږ وپوښتل چی بي صبري نه مطلب څه دی؟ رسول الله ص وويل چی بي له صبري نه مطلب دادی چې بنده په دی ګمان چې الله می دعا نه منې دعا کول پريږدي چې داسې نه ده.

په خپلو اعمالو بايد غور وکړو: د دوامداره ګناهونو کول او توبه نه ايستل ددې سبب ګرځی چې د انسان دعاوې قبولې نشي. نو په دې خاطر لازمه ده چی موږ خپلو اعمالو باندې غور وکړو، له ګناهونو توبه وباسو او الله ج ته رجوع وکړو.

د دعا کولو نه مخکې لازمه ده چی د الله ج حمد او ثنا ووايو او په رسول الله ص درود واستوو.

روايت دی چې حضور پاک يو کس د دعا کولو په حالت کې وليدو نو ويې ويل چی دا کس ډير تلوار کې دی. او هغه يې راوغوښت اوورته يی وفرمايل: کله چې د تاسو نه څوک الله ج ته دعا کوي نو بايد لمړی د الله ج حمد او ثنا ووايي بيا دی په رسول الله ص درود واستوي او دهغې نه وروسته دی دعا وکړي.

ددعا وخت کې لازمه ده چې په غوره الفاظو دعا وغوښتل شي. د ټولو نه غوره الفاظ د الله ج مبارک نومونه دي. د مثال په ډول د دعا په وخت کی الله ج د الرحمن الرحيم په نومونو مخاطب کول. ددعا وخت کی مخ قبلی ته اړول، په سجودو کی دعا غوښتل، د اذان او اقامی منځ کی دعا کول، په تهجد کی دعا کول، د دعا نه مخکی خيرات ورکول او د کوم غريب مدد کول، د بل مسلمان د خوشحالی سبب جوړيدل، د دعا نه مخکی اودس کول مناسب عملونه دي چی ددعا د قبلولو سبب جوړيدلای شي.

الله ج څه ډول زمونږ دعاوو ته ځواب راکوي؟

رسول الله ص وايي الله ج چی هر هغه دعا چی د ګناه او د خپلوي او قطع تعلق ګمان په کې نه وي په درې ډوله ځوابوي، يا يې سمدستي قبلوي، ياېې ثواب په اخرت کې ورکوي، او يا په همغه اندازه مصيبت د بنده نه لرې کوي. په اخر کې لازمه ده چې ووايم د الله ج نه تل ددې او هغې دنيا د کاميابي او ښيګڼو لپاره دعاکوی. الله دې ټول مسلمانان په خپله پناه کې لري.

# د مسلمان ډاکټر صفات

**نور الله خان احمدزی**

۱- غوره اسلامي اخلاق او په زړه پورې مزاج ولري.
۲ - نرم زړی، حياناک، پاکلمن، مخلص او ديانت والا وي.
۳- عمده او شرعي لباس، او بدن باندې پاک او صاف وي.
۴- د خدمت جذبه ورسره وي او ټولو ناروغانو ته په درنه سترګه ګوري.
۵- په خپل مسلک کې پوره پوه او د لا نورو معلوماتو او پوهې په لاسته راوړلو پسې لګيا وي.
۶- هوښيار يعني په عقل پوره وي او له هر ډول غصې او بيړې څخه ځان ژغوري.
۷- د ناروغانو د رازونو ساتونکی وي، د خپل مسلک څخه بهر او غير ضروري او تکراري پوښتنو څخه ځان ژغورل.
۸- د ذاتي ګټو په خاطر غيرمعياري درمل نه ليکي او نه يې سپارښتنه کوي. د ناروغانو اقتصادي حالت ته پاملرنه کول او د هغوی له وس او توان پورته درمل نه ليکل او نه يې سپارښتنه کول.
۹- د نظم او ډسپلن خپله هم خيال ساتي او خپلو ملګرو ته هم ورته سپارښتني کول.
۱۰- د الله تعالی اطاعت او عبادت خپله هم کوي او نورو ته هم دعوت ورکوي.
۱۱ - شکل او صورت او ټولې کړنې د اسلامي احکامو او اصولو مطابق ترسره کول.

# په هرات کې د قومونو او ولسونو د همغږۍ غونډه جوړه شوه

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت له لوري د هرات ولایت د ولسوالیو له استازو او یو شمېر قومي مشرانو سره د قومونو او ولسونو د همغږۍ او اتحاد ناسته ترسره شوه.

په دغه ناسته کې د یاد وزارت د مسلکي چارو مرستیال مولوي عبدالرحمن حقاني، مل پلاوي، د یاد ولایت د ملکي ادارو رئیسانو، د کوچیانو شورا رئیس، قومي مشرانو او دیني عالمانو ګډون کړی وو.

په پیل کې د قومونو په استازیتوب څو تنو خبرې وکړې او د یاد وزارت د جرګو او همغږۍ د غونډو له جوړولو یې هرکلی وکړ او داسې غونډې یې د حکومت او ولس ترمنځ د واټن په کمولو کې ګټورې وبللې او د قومونو تر منځ په یووالي، اتفاق او یو بل منلو یې ټینګار وکړ.

د ناستې په پای کې د یاد وزارت د مسلکي چارو مرستیال شیخ عبدالرحمن حقاني ټولو ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړه، چې د حکومت او خلکو په مرسته د هېواد د پولو ساتنه، د قومونو د شخړو حل کول او د قومونو ترمنځ همغږۍ او یووالی راوستل یې د دې وزارت دنده وبلله.

نوموړي وویل، که چېرته موږ متحد شو د نړۍ هېڅ زبر ځواک به دلته د حملې لپاره زړه ونه کړي او زموږ د هېواد خاوره به د هېڅ چا پر وړاندې ونه کارول شي.

غونډه د هېواد او ولس د اتحاد او ورورولۍ په دعا سره پای ته ورسېده.

## فصل جدیدی مناسبات سیاسی را ...

قطر و امارات متحده عربی کشورهای اند که سفارت‌های‌شان در افغانستان باز است و اماکن دیپلوماتیک امارت اسلامی نیز در این کشورها فعالیت دارند.

تقریباً پیام‌های همه همسایگان افغانستان به جز تاجیکستان در حوزه مبارزه با تروریزم، حقوق بشر و حاکمیت، فراگیر بوده که تاحد زیادی همسو با منافع امریکا توصیف شده است.

در این دوازده ماه پسین، نمایندگی‌های سیاسی کشورهای اروپایی در افغانستان تنها به هدف هماهنگی کمک‌های بشری ادامه داشته است. هندوستان نیز تیم فنی برای هماهنگی کمک‌های بشری در افغانستان دارد.

امیرخان متقی، وزیر امور خارجه، گفته است که امارت اسلامی به خواست‌ها و منافع سایر کشورها احترام می‌گذارد و در مقابل از آن‌ها نیز می‌خواهد تعامل مشابه با امارت اسلامی داشته باشند.

این خواست هم‌چنان بارها از سوی ملا عبدالغنی برادر، معاون اقتصادی ریاست الوزراء، ابراز شده که امارت اسلامی سیاست خارجی متوازن و اقتصاد محور دارد و خواهان داشتن روابط دوستانه با همه کشورهای جهان است.

در دوازده ماه گذشته، کشورهای منطقه و جهان نیز میزبان نشست‌های برای افغانستان بودند، اما تقریباً در بسیاری از این نشست‌ها هیچ نماینده‌ای از امارت اسلامی حضور نداشت.

وزیر خارجه ازبیکستان در نشست مشترک سازمان امنیت و همکاری اروپا که در اواخر سال روان در تاشکند برگزار شد، پیشنهاد داد که یک گروه مذاکره کنندهٔ بین‌المللی برای گفتگو با امارت اسلامی ایجاد شود.

ضمیر کابلوف، نماینده خاص رییس‌جمهور روسیه برای افغانستان، نیز اظهارات مشابه داشت و تأکید کرد که افغانستان نباید درعرصه جهانی در انزوای سیاسی قرار داشته باشد.

با این حال، چرا جهان به ویژه امریکا و کشورهای غربی استراتیژی روشن و مشخص در یک سال گذشته در قبال افغانستان نداشته‌اند و چرا کشورها از طریق دیپلوماسی چندجانبه با افغانستان برخورد نکرده و هیچ اجماع سیاسی در این خصوص به وجود نیامده است؟

با این وجود، امارت اسلامی امیدواراست که در سال نو هجری خورشیدی بتواند روابط و مناسبات سیاسی خود را با کشورهای منطقه و جهان تقویت بیش‌تر کند و در نتیجه تعاملات مثبت با جهان و ایجاد روابط دوستانه مشروعیت بین‌المللی را نیز حاصل نماید.

## په لوګر کې روان کال د دوه ملیارده ...

زرګونه بې وزلو کسانو ته نقدي او خوراکي مرستې وېشل شوي او دغه راز ۷۰ زره کسانو ته په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه کاري زمینې برابره شوې ده.

راشد زیاته کړه، چې د مرکزاو ولسوالیو په ګډون دغه پلې شوې پروژو کې سلګونه کیلومتره سړکونه د اساسي جوړولو، جغل اچولو او د زرګونو متره استنادي دېوالونو ترڅنګ زر ګونه متره ویالې، کانالونه او کارېزونه جوړ او پاک شوي دي.

د ولایت مقام د دفتر رئیس مولوي میرویس وحیدالله د کلیو، بیا رغونې او پراختیا ریاست او له همکارو موسسو مننه وکړه، چې په دې مهمو حالاتو کې د دې هېواد د آبادۍ، د ولسونو د هوساینې، بې وزلو د لاسنیوي ترڅنګ زرګونو کسانو ته کاري زمینه برابره کړې ده.

## توزیع مواد غذایی برای ...

پیش از این، وزارت احیا و انکشاف دهات، از توزیع کمک‌های مواد غذایی به هفت هزار و ۸۷۰ خانواده درکاپیسا و زابل نیز خبر داده بود. ربانی

## د کندز په قلعه زال ولسوالۍ کې ...

پرمختګ ته ځانګړې پاملرنه شوې ده.

په همدې حال کې د آمو سیند څنډو د پیاوړتیا رییس مولوي سید غلام مشواڼي وویل، چې د آمو سیند د څنډو د پیاوړتیا حوزو د پیاوړتیا چارې له شبرغان، واخان، بدخشان تر کندز ولایت له مربوطاتو څخه پیل شوې، چې اوسمهال د دغه ولایت په قلعه زال ولسوالۍ کې پیل شوې.

هغه زیاته کړه، د کندز ولایت په قلعه زال ولسوالۍ کې آمو سیند د څنډو پر پیاوړتیا څه باندې ۵۰ میلیونه افغانۍ لګښت راځي، چې د افغانستان اسلامي امارت له لوري ورکول کېږي.

نوموړي زیاته کړه، چې د دغه پروژې په بشپړېدو سره په دغه ولسوالۍ کې زرګونه جریبه کرنیزه ځمکه د آمو سیند له تخریب څخه وژغورل شي.

د یادونې وړ ده، چې یوه میاشت وړاندې د دغه ولایت د حضرت امام صاحب ولسوالۍ د شېرخان بندر په برزنګي سیمه کې هم د آمو سیند څنډو د پیاوړتیا چارې پیل شوې وې.

## نوی کال او نوې...

قسم فشارونو سره سره داسې ګټور پلانونه جوړ او عملي کړي چې چاپې تصور هم نشو کولی. همدارنګه په درېیم فرمان کې راغلي چې امارتي چارواکي نشي کولی د تدارکاتو په برخه کې داوطلبۍ کې ونډه واخلي د دغو فرمانونو په صادرولو سره د ملت ناهیلي په هیله مندۍ بدله شوې موږ په خپل خالق الله رب العزت او خپل غیرتي او اتل ملت باوري یو او یو له بل سره به په هېواد کې موجودو ستونزو ته د پای ټکی ږدو زموږ تورزن ملت دې د کورنیو او بهرنیو دښمنانو په پوچو او بېځایه تبلیغاتو نه غولېږي د اسلامي امارت غېږ او دروازې د دوی پرمخ خلاصې دي او په ګډه به د خپل هېواد او ملت د هوساینې او پرمختګ لپاره نه ستړې کېدونکې هڅې او کوښښونه کوو ترڅو خپل استقلال او آزادي هم وساتو او په خپل ګران او محبوب هېواد کې سرلوړی او پتمن ژوند ولرو. والله علی ما نقول وکیل

# کندهار کې د حاجیانو له لارښوونکو څخه آزموینه اخیستل کېږي

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت له لوري د ۱۴۴۴ هجري قمري کال د حاجیانو لپاره د لارښوونکو یا معلمینو د ثبت نام، ارزونې او ازموینې بهیر د کابل ترڅنګ د هېواد په ټولو ولایتونو کې پیل شوی، چې په لړ کې یې د کندهار د ارشاد، حج او اوقافو ریاست له لوري هم دا لړۍ روانه ده او تر دې دمه ۵۸۲ کسانو په آزموینه کې د ګډون په موخه نوم لیکنه کړې ده.

د کندهار د ارشاد، حج او اوقافو ریاست مسوولین وايي، چې د وزارت د حکم پر اساس باید د حاجیانو لارښوونکي یا معلمین له دیني علومو «لویې دورې» څخه د فراغت معتبر سند ولري، سیرت او صورت یې پر شریعت برابر وي او د حاجیانو د خدمت کولو وړتیا ولري. د دوی په خبره؛ په آزموینه کې د ګډون په موخه د لارښوونکو یا معلمینو د نوم لیکنې دا لړۍ به د روژې مبارکې میاشتې تر پنځمې دوام ولري او هغه کسان چې پر شرایطو برابر وي د ثبت د لړۍ د پای‌ته رسېدو وروسته به یوه ورځ له ټولو څخه آزموینه واخیستل شي.

## د کورنیو چارو وزارت د تېر یوه کال کړنې ...

شوي او ٦ تنه نور د یادو کسانو له لوري وژل شوي دي.

د کورنیو چارو وزارت ویاند وویل چې په تېر یوه کال کې په ټول هېواد کې ۷۸۰ کسان د ورانکارو او ترهګریزو فعالیتونو په تور نیول شوي، همدارنګه ۱۰۳ میله درنې ۱۰ زره ۲۰۰ میله سپکې وسلې او زیاته اندازه پوځي وسایل او چاودېدونکي توکي د پولیسو لاسته ورغلي دي.

د ټکور په خبره اوسمهال د کورنیو چارو وزارت د انترپول له لوري ۲۳۴قضیې تر کار لاندې دي او تېر یوه کال په موده کې د نغدو پیسو قاچاق د ۹ پېښو مخنیوی شوی، چې ټول ټال یو میلیون ۱۵۵ زره ۵۰۰ امریکایي ډالر کېږي.

سرچینې زیاته کړه، چې په یاده موده کې ۳ زره ۴۲۰ بانکي تعرفې د زغره والو وسایطو او وسلو ګرځولو د جواز لپاره په شرایطو برابرو غوښتونکو ته وېشل شوي او له درکه یې ۱۶۷ میلیونه ۵۰۰ زره افغانۍ عواید د دولت خزانې ته سپارل شوي دي.

د کورنیو چارو وزارت همدارنګه په تېر یوه کال کې ۵ زره ۵۰ کسان د نشه یي توکو د کاروبار په تور نیولي، د یادو توکو د جوړولو او پروسس ۱۸۲ کارخونې له منځه وړل شوي، په ۱۷۹۰ هکتاره ځمکه کرل شوي نشه یي توکي له منځه وړل شوي دي او کابو ۸۲ زره په نشه یي توکو روږدي کسان د درملنې په موخه راټول شوي دي.

یاد وزارت ته د ۱۴۰۱ کال لپاره څه د پاسه ۴۲ میلیارده افغانۍ عادي بودیجه په واک کې ورکړل شوې وه، چې له هغې جملې څخه یې د کب تر ۱۴ نېټې پورې ۹۰ سلنه مصرف کړې ده.

د یادونې وړ ده، چې د کورنیو چارو وزارت په تېر یوه کال کې په ټول هېواد کې ۱۴۰۰ ترافیکي پېښو د رامنځته کېدو خبر هم ورکړی، چې له کبله یې ۷۲۷ تنه وژل شوي او ۲ زره ٦۷۴ تنه نور ټپیان شوي دي.

## اگـر لازم باشد قـرضه حسنه جهت بهـبود ...

حال حاضر آماده سرمایه گذاری در بخش مرغ‌داری هستیم و تا دوسال دیگر به خودکفایی می‌رسانیم ما متعهد به رشد این سکتور می‌باشیم.

در این دیدار بیست فارم‌دار مرغ تعهد سپردن تا در این راستا سرمایه‌گذاری کنند در صورتی‌که واردات گوشت بریدر کنترول شود، فیصدی تعرفه‌ها بالا برود.

## د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو چارو معینیت ...

محمد طیب، د دنیوي او اخروي امتحان په اړه خبرې وکړې او ویې ویل چې په دنیا کې پر مسلمانانو هر ډول حالات راځي، خو مسلمانان باید د الله (ج) د انعاماتو شکر ادا کړي او د مصیبت په وخت کې له صبر او زغم څخه کار واخلي.

هغه په خپلو خبرو کې، دنیا د ډول ډول امتحانونو کور وباله او ویې ویل چې مسلمانانو ته لازمه ده چې په دغه کور کې د آخرت په ستر امتحان کې د کامیابۍ او د الله تعالی (ج) د رضایت د ترلاسه کولو په موخه علم ترلاسه او نېک کارونه ترسره کړي او الله (ج) ډېر عبادت وکړي.

د دعوت او ارشاد رئیس زیاته کړه چې علماء د دین وارثان دي او د دیني مسایلو رسول د علماء مسئولیت او دنده ده.

دغه راز، د آزموینې یو شمېر ګډونوالو، پر دیني او عقیدتي مسایلو د پوهاوي لپاره، د دغه شان روزنیزو برنامو جوړول مهم او اغېزمن وبلل او د دوام غوښتنه یې وکړه.

هغوی دیني زده کړې، د ټولنې د اصلاح او د ژوندانه تر ټولو مهمه برخه وبلله او ویې ویل چې په دې روزنیزه دوره کې یې د دیني مسایلو په اړه ډېر معلومات ترلاسه کړي دي.

د یادونې وړ ده چې د روان کال په بهیر کې، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت سلګونه کارکوونکي د «عقیدتي مسایلو» له روزنیزو دورو څخه فارغ شوي دي. په دغو روزنیزو دورو کې ګډونوالو ته د عقایدو، اعمالو او د نبوي سیرت په اړه معلومات ورکړل شوي دي.

## سږ کـال په طبیعي پېـښو کـې له زرو ...

ټپیان شوي دي. نوموړي په یو ویډیوي پیغام کې ویلي، چې په دې مهال کې د سېلابونو او زلزلو له کبله ۹۸۰۸ کورونه په بشپړ ډول ویجاړ شوي. د ده په خبره، په روان هجري لمریز کال کې په طبیعي پېښو کې شاوخوا ۸۰ زره څاروي له منځه تللي او همدا راز د سېلابونو راوتلو له کبله د ۱۴۷ زره ۷۴۷ جریبه ځمکې د ویجاړېدو تر څنګ څه باندې ۴۰۰ هټۍ هم نړېدلي دي. پېښو ته د رسېدو په چارو کې د دولت وزارت د اطلاعاتو پر بنسټ، دغه وزارت یو شمېر هغو کورنیو ته چې د طبیعي پېښو له امله زیانمنې شوې دي، ځمکې او کورونه وېشلې دي.

## سرباز آسترالیایی به اتهام ارتکاب جنایات ...

تحقیقات چهار ساله‌ای که نتایج آن در سال ۲۰۲۰ منتشر شد، نشان می‌دهد که نیروهای خاص آسترالیا ۳۹ زندانی ملکی را در افغانستان کشته‌اند.

پس از توصیه‌های این گزارش، ۱۹ نفر از اعضای فعلی و سابق اردوی آسترالیا به یک محقق خاص ارجاع شدند تا مشخص شود که آیا شواهد کافی برای تعقیب قانونی وجود دارد یا خیر.

در آسترالیا حداکثر مجازات برای جنایت جنگی (قتل) حبس ابد است.

پس از شکست امارت اسلامی در افغانستان در سال ۲۰۰۱ میلادی، آسترالیا بخشی از حضور نیروی بین‌المللی به رهبری ناتو در افغانستان بود که نیروهای امنیتی تازه تاسیس این کشور را آموزش می‌داد و برای دو دهه در جنگ علیه امارت اسلامی سهم گرفت.

در این مدت، بیش از ۳۹ هزار سرباز آسترالیایی در افغانستان خدمت کردند و ٤١ نفر از آن‌ها کشته شدند.

این در حالی است که در ماه نوامبر، ۲۰۲۰ اردوی آسترالیا از مردم افغانستان به خاطر ارتکاب «جنایات جنگی» و «کشتار غیرقانونی» آن‌ها توسط عده‌ای از سربازان نیروی خاص خود «صمیمانه و بدون قیدوشرط» عذرخواهی کرده بود.

## تطبیق صدها پروژه عمرانی وانکشافی ...

از بودجه داخلی در هماهنگی با بیست و هفت نهادهای همکار تطبیق گردیده است.

این پروژه ها شامل ساخت سرک ها، جغل اندازی سرک ها، ساخت هزاران متر دیوار استنادی، جوی، نهر، ساخت کانال، پاک کاری کانال، ساخت کاریز ها و حفر چاه های آب است که هزاران خانواده را پوشش داده است.

درپایان این کنفرانس خبری، شماری از کارمندان ریاست احیا و انکشاف دهات لوگر، تقدیر شدند. ویسا

## کابل کې د اتصالات مخابراتي شرکت له لوري ...

کې د سرپرست حکومت د کابل ښاروالۍ یو شمیر استازو ترڅنګ د اتصالات مخابراتي شرکت مسوولینو او خبریالانو هم ګډون کړی و. په جوړ شویو مراسمو کې د اتصالات مخابراتي شرکت مسوولینو وویل، چې اتصالات مخابراتي شرکت تل د هیواد د ابادۍ او سمسورتیا لپاره هڅه کوي او سږ کال پلان لري، چې د کابل ښاروالۍ په مرسته په ښار کې دوه زره نیالګي کېنوي. د دوی په خبره، چې دغه نیالګي به د وزیر محمد اکبر خان د تپې پر سر او د کابل ښار په بېلابېلو برخو کې کېنول شي. د کابل ښاروالۍ استازو د اتصالات مخابراتي شرکت له لوري د نیالګیو کېنولو کمپاین څخه د ملاتړ ترڅنګ زیاته کړه، چې ټول هېوادوال مسوولیت لري، څو د هېواد د ابادۍ او سمسورتیا لپاره نیالګي وکري او پالنه یې وکړي. د ویلو ده، چې اتصالات مخابراتي شرکت له تېرو څو کلونو راهیسې هر کال د پسرلي موسم په را رسېدو سره د کابل ښاروالۍ په مرسته، د کابل ښار په بېلابېلو سیمو کې نیالګي کېنوي.

# Shariat

Twice printed in week

**Shariat**
**Published by**
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

**شریعت**
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷۶۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Tuesday 21 March 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 139


## د کندز په قلعه زال ولسوالۍ کې د آمو سیند څنډو د پیاوړتیا چارې پیل شوې



د کندز په قلعه زال ولسوالۍ کې د آمو سیند څنډو د پیاوړتیا چارې د څه باندې ۵۰ میلیونو افغانیو په لګښت پیل شوې.
په همدې موخه جوړو شویو مراسمو کې د کندز د اطلاعاتو او کلتور رییس مطیع الله روحاني وویل، چې له نېکه مرغه د اسلامي امارت په راتګ سره د دغه ولایت په ټولو برخو ښه والي او ... ۵مخ

## په لوګر کې روان کال د دوه میلیارده افغانیو په لګښت ګڼې پروژې پلې شوي دي



د لوګر د کلیو، بیا رغونې او پراختیا ریاست مسوولینو د یوې خبري غونډې په ترڅ کې د خپلو یو کلنو لاسته راوړنو راپور له رسنیو سره شریک کړ.
په دغه غونډه کې د یاد ولایت د کلیو، بیا رغونې پراختیا رئیس مولوي محمدقاسم راشد وویل، چې په تېر یوه کال کې د دې ولایت د مرکز په ګډون ټولو ولسوالیو کې د داخلي بودجې او د ۲۷ همکارو موسسو پرمټ د ۲ میلیارده افغانیو په ارزښت په بېلابېلو برخو کې۵۸۲ پروژې د پلي کولو، مقدماتي او تخنیکي سروې ګانو سربېره ... ۵مخ

## توزیع مواد غذایی برای هشت‌هزار و ۵۰۰ خانواده در کندز



وزارت احیا و انکشاف دهات، از توزیع مساعدت‌های پروگرام جهانی غذا به هشت‌هزار و ۵۰۰ خانواده نیازمند در کندز، خبرداده است.
به گزارش آژانس باختر؛ این وزارت دیروز، با نشر خبرنامه‌یی گفته است: مساعدت‌های سازمان غذایی جهان شامل آرد، روغن، لوبیا به هشت‌هزار و ۵۰۰ خانواده نیازمند در مربوطات ولسوالی خان‌آباد کندز، توزیع شده است.
این کمک‌ها زیر نظارت ریاست احیا و انکشاف دهات کندز، انجام شده است. ص۵

## په غور کې سلګونو کورنیو ته کورونه جوړ شول

د غور د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو ریاست مسوولین وايي، چې د دغه ولایت په دولت یار ولسوالۍ کې ۱۵۰۵ جنګ ځپلو او د طبیعي پېښو له امله زیانمن شویو کورنیو ته کورونه جوړ شول. د دغه ولایت د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو ریاست د مطبوعاتو آمر محمد عیسی اقبالي باختر آژانس ته وویل، چې دغه کورونه د افغان اید موسسې په همکارۍ د دولت یار ولسوالۍ په سمک، لکه مزار، پشته نور، قاضي او دهمرده کلیو کې جنګ ځپلو او د طبیعي پېښو له امله زیامن شویو کورنیو ته جوړ شوي دي. اقبالي زیاته کړه، چې په دغو کورونو کې ۴۰۱ کورونه په بشپړ ډول او دغه راز ۱۱۰۴ بیا رغول شوي، چې نن د یو شمېر چارواکو په حضور کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شول.

## رویدادهای خارجی

### سعودي عربستان د ایران ولسمشر ته ریاض ته د سفر بلنه ورکړې



د ایران حکومت ویلي چې سعودي عربستان د دغه هېواد ولسمشر ابراهیم رییسي ته په یوه رسمي لیک کې ریاض ته د سفر بلنه ورکړې ده.
د ایران ولسمشرۍ مانۍ ویلي ولسمشر رییسي به ریاض ته په رسمي سفرکې د سعودي عربستان د پاچا د بلنې په هرکلي سره د دواړو هېوادونو ترمنځ دهمکاریو دپیاوړتیا لپاره د ایران پر چمتووالي ټینګار وکړي.
سعودي عربستان او ایران د مارچ په لسمه نېټه اعلان وکړ چې له اوو کلونو کړکېچ وروسته یې د چین په منځګړیتوب د اړیکو د بېرته ټینګولو موافقه وکړه.
سعودي عربستان په ۲۰۱۶ کال کې وروسته له هغه له ایران سره ډیپلوماتیکې اړیکې پرې کړې چې ایراني اعتراض کوونکو په دغه هېواد کې د سعودي پر ډیپلوماتیک ماموریت برید وکړ.
بل لور ته د ایران د بهرنیو چارو وزیر امیر عبدالهیان ویلي، ایران او د سعودي عربستان د بهرنیو چارو وزیرانو په کچه د یوې غونډې تابیا کړې او د دې لپاره درې ځایونه وړاندیز شوي دي.
نوموړي د دې ځایونه نومونه نه دي یاد کړي او نه یې هم د احتمالي غونډې نېټه یاده کړې ده.

### ثبت‌نام ۸۰۰ هزار نفر در کوریای شمالی برای جنگ با امریکا

به نقل از خبرگزاری رویترز، روزنامه دولتی کوریای شمالی روز شنبه (۲۷ حوت) گزارش داد که حدود ۸۰۰ هزار شهروند این کشور به صورت داوطلبانه برای پیوستن به اردو جهت جنگ علیه امریکا ثبت




نام کرده‌اند. روزنامه دولتی کوریای شمالی در این ارتباط گزارش داد که این ۸۰۰ هزار نفر شامل محصلین و کارگران هستند که آمار ثبت نام آن‌ها فقط مربوط به یک روز است و انتظار می‌رود که افراد متمایل به جنگ با امریکا در کوریای شمالی بسیار بیشتر از این تعداد باشد.
این ادعای کوریای شمالی پس از آن مطرح شد که این کشور روز پنج‌شنبه گذشته راکت بالستیک قاره پیمای هواسونگ -۱۷ (ICBM) خود را در پاسخ به تمرینات نظامی جاری امریکا و کوریای جنوبی پرتاب کرد.
کوریای شمالی روز پنج‌شنبه، ساعاتی قبل از پرواز رئیس جمهور کوریای جنوبی به توکیو برای حضور در نشستی که قرار بود در آن راه‌های مقابله با کوریای شمالی مجهز به سلاح هسته‌ای مورد بحث و بررسی قرار گیرد، موشک قاره پیما خود را به سمت دریای بین شبه جزیره کوریا و جاپان پرتاب کرد. این پرتاب با محکومیت دولت‌های سئول، واشنگتن و توکیو مواجه شد.
نیروهای کوریای جنوبی و امریکا تمرینات مشترک ۱۱ روزه خود را با نام «سپر آزادی ۲۳» روز دوشنبه آغاز کردند که حجم و گستره این تمرین نظامی از سال ۲۰۱۷ تاکنون بی سابقه بوده است. گفته شده این تمرینات برای مقابله با تهدیدات کوریای شمالی برگزار می‌شود.

## په فراه او کندهار کې پر لسګونه جریبه ځمکه کرل شوي کوکنار واړول شول

ځایي مسوولینو په فراه او کندهار ولایتونو کې پر لسګونه جریبه ځمکه د کرل شویو کوکنارو د اړولو خبر ورکړی دی.
د فراه ولایت د بالابلوک ولسوالۍ مرستیال ملا عبدالهادي بیت الله باختر آژانس ته په استول شوې خبرپاڼه کې ویلي، چې د یادې ولسوالۍ امنیتي او کشفي ځواکونو د یو لړعملیاتو په ترڅ کې په بېلا بېلو سیمو کې شاوخوا پر ۱۲ جریبه ځمکه کرل شوي کوکنار له منځه وړي دي.
د یو بل خبر له مخې د کندهار ولایت د سپین بولدک ولسوالۍ په بېلابېلو سیمو کې پر ۲۰ جریبه ځمکه کرل شوي کوکنار واړول شول.
د یادې ولسوالۍ مسوولین وايي، چې د نشه يي توکو پر وړاندې د مبارزې کمپاین له پیل څخه په دغې ولسوالۍ کې پر ۲۴۵ جریبه ځمکه کرل شوي کوکنار له منځه وړل شوي دي.



## په میدان وردګو کې د ترافیکي پېښې له امله ۱۵ تنه ټپیان شول



د میدان وردګو د امنیې قومندانۍ چارواکي وايي چې د دغه ولایت په سیداباد ولسوالۍ کې د ترافیکي پېښې له امله ۱۵ تنه ټپیان شوي دي. د میدان وردګو د عامې روغتیا رئیس باختر آژانس سیمه ییز خبریال ته وویل، چې د دغه ولایت د سیداباد ولسوالۍ زرني سیمه کې د ترافیکي پېښې له امله د یوې ښځې او ۵ ماشومانو په ګډون ۱۵ تنه ټپیان شوي دي. د یادونې وړ ده چې ټپیان د وردګو ولایتي روغتون ته انتقال شوي دي.

## فراه کې نږدې ۵۰۰ کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شوې

د فراه د کلیو، بیا رغونې او پراختیا ریاست مسوولین وايي، چې د دغه ولایت په مرکز کې د ۱۱ میلیونو ۴۳۲ زرو او ۵۷۹ افغانیو په لګښت د څښاک اوبو یوه شبکه جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.
د دغه ولایت د کلیو، بیا رغونې او پراختیا ریاست مسوولینو باختر آژانس ته وویل، چې دغه شبکه د مرکز اړوند پورتني رنج سیمه کې د یونیسف موسسې په مالي ملاتړ د ۱۱ میلیونو ۴۳۲ زرو او ۵۷۹ افغانیو په لګښت د ۵۰ متر مکعب اوبو زېرمې له لرلو سره جوړه شوې ده. د مسوولینو په وینا د یادې شبکې په بشپړېدو سره ۴۵۵ کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شوې دي

## آغازکارجغل اندازی شصت کیلومتر سرک در هلمند



کارجغل اندازی شصت کیلومتر سرک در ولسوالی گرمسیرهلمند، آغاز شد.
انجینیر نثار احمد، رئیس فواید عامه هلمند به خبرنگار محلی آژانس باختر گفت که این جاده، از منطقه هزار جفت ولسوالی گرمسیر تا ساحه ی صفار ازبودجه ی این ریاست، جغل اندازی می شود.
کارجغل اندازی این سرک، تا دوماه تکمیل خواهد شد.
قابل ذکر است که چند روز پیش، کار بازسازی سرک لشکرگاه تا چاه انجیر نیز آغاز شده بود.

**د ولسي خلکو مشکلات د امکان په صورت کې حل کړئ، وخت ورکړئ او دروازې یې پر مخ مه بندوئ.** د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله له ویناوو څخه

شریعت
په اونۍ کې دوه ځله خپرېږي
د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان